قسم په الله زه چې يم-إِنْ شَاءَ اللَّهُ- هېڅ قسم نه يادوم مګر کله چې راته له هغې غوره معلومه شي، بيا د قسم کفاره ورکوم، او هغه کار کوم چې ښه راته معلوم شي

له ابو موسى الأشعري رضي الله عنه څخه روايت دى فرمايي چې: زه د اشعريانو له يوې ډلې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلم او د سپرلۍ غوښتنه مې ترې وکړه نو ويې وفرمايل: «په الله قسم چې سپرلۍ به در نه کړم، ما سره سپرلۍ نشته چې دريې کړم» بيا مور هلته پاتې شو تر څو چې الله غوښتل، نو اوښان ورته راوستل شول او مور ته يې د دريو اوښانو د راکولو امر وکړ، کله چې ترې روان شو، مو ځينو يو بل ته وويل: قسم په الله، که الله راته پکې برکت واچوي، ځکه مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلو او د سپرلۍ غوښتنه مو ترې وکړه، هغه قسم وکړ چې سپرلۍ به نه راکوي خو رايې کړه، نو ابو موسى وويل: مورږ رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغلو او د دې خبرې يادونه مو ورته وکړه، نو ويې فرمايل: «دا زه نه وم چې تاسو مې سپاره کړئ، بلکې الله تعالى سپاره کړئ (يعنې سپرلۍ يې په واک کې درکړې قسم په الله زه چې يم-إِنْ شَاءَ اللَّهُ- هېڅ قسم نه يادوم مګر کله چې راته له هغې غوره معلومه شي، بيا د قسم کفاره ورکوم، او هغه کار کوم چې ښه راته معلوم شي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

ابو موسى الأشعري رضي الله عنه فرمايي چې هغه د خپلې قبيلې له يوې ډلې سره رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورغى او رسول الله صلى الله عليه وسلم ته يې له ورتګ څخه موخه دا وه چې هغوى ته د سپرلۍ لپاره اوښان ورکړي او په جهاد کې برخه واخلي، نو هغه عليه الصلاة و السلام قسم وکړ چې ور يې نه کړي او دا چې له هغه سره سپرلۍ نشته تر څو يې ورکړي او پرې سپاره شي. نو دوى بېرته راستانه شول او يو څه وخت (هملته) پاتې شول، بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ته درې اوښان راوستل شول، نو هغه يې دوى ته ورولېږل، نو ځينو يې يو بل ته يې وويل چې: الله به مورږ ته په دې اوښانو کې برکت نه اچوي، ځکه چې رسول الله صلى الله عليه وسلم قسم کړى و چې مورږ به نه سپروي (د سپرلۍ لپاره به څه نه راکوي)، نو ورته راغلل او پوښتنه يې ترې وکړه، نو هغه صلى الله عليه وسلم وفرمايل: هغه چا چې تاسو ته سپاره کړي ياست (سپرلۍ يې درته پيدا کړې) هغه الله تعالى دى؛ ځکه هغه هغه ذات دى چې توفيق او روزي ورکوي، او زه چې يم يوازې يو سبب يم چې زما په لاسونو يې تر سره کوي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: زه چې يم قسم په الله - إن شاء الله - چې په هيڅ شي قسم نه يادوم چې دا کار به کوم او يا به يې نه کوم، او بيا وروسته راته څرګنده شي چې په کوم څه مې قسم کړى له هغه خير او غوره دى چې قسم مې پرې نه دى کړى، مګر دا چې هغه څه کوم چې هغه غوره وي او هغه پرېږدم چې قسم مې پرې کړى وي او د قسم کفاره ورکوم.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/2961